The Lighthouse Journal of Literature & Linguistics, Vol. 02, Winter 2023, pp. 41-50

# د پروفېسر محمد اسلام ارماني په ازاد نظم کښې عصري شعور

ډاکټر مظهر احمد[1]، عظمي ګُل[2]، عطا الله[3]

## ABSTRACT

*Free verse has been introduced to Pashto literature through Urdu, originating from English literature. Pashto literature has given rise to numerous accomplished free verse writers, including Professor Muhammad Islam Armani. This article delves into the exploration of the contemporary consciousness evident in the free verse of Professor Mohammad Islam Armani.*

***Keywords:*** *Professor Islam Armani, Free verse, Pashto Literature*

شاعر د قام حساس غړے وي، سترګه ور وي، مشاهده ئې تېزه وي- د خوړ زړۀ خاوند وي، په هر چا ئې زړۀ خوږېږي- په حالاتو او واقعاتو ئې نظر وي- د لانجو او مسئلو نه خبر وي- د دې هرڅۀ ادراک لري- د دې د حل د پاره په سوچونو او فکرونو اخته وي- خلق خبروي، اولس راویښوي، هغوي ته د بېدارئ شعور بخښي، د مسئلو د حل د پاره ورته لارې سموي، لار ښودنه او لار سمونه ئې کوي-

د دغه حساس غړي نظر یوازې په خپل قام نۀ وي- هغه د نړئ د نورو قامونو په حقله هم ځان خبروي- د نړیوالو مسئلو او ستونزو د حل د پاره هم لاس او پښې وهي- خپلو وګړو ته د دغه عالمي واقعاتو او حادثاتو په تناظر کښې لارې چارې سموي او د قام د ترقئ او سوکالئ د پاره خپل سوچ او فکر پکار راولي-

پروفېسر محمد اسلام ارماني شاعر ؤ، سترګه ور ؤ، ویښ عصري شعور ئې لرلو، خپل قلم ئې د شعر و فن په ذریعه د خپل قام پکار راوستلو- قام ئې د هغه ټولو مسئلو او کشالو نه خبرولو هغوي ته سیاسي او سماجي شعور وربخښلو- د ترقئ لارې چارې ئې ورته سمولې هم دا ئې خپله وظیفه جوړه کړې وه او هم دغه ئې د شعر مقصد ګرځولے ؤ-

ډاکټر فضل دین خټک د ښاغلي پروفېسر ارماني د دوېم دور په شاعرئ بحث کوي او د دوي د ژورې مشاهدې په حقله لیکي:

> "ارماني صب د یو ډېر ژور احساس، د یوې ډېرې ژورې مشاهدې او د یو ډېر دړدېدونکي تاثر اظهار په ډېر

1. Assistant Professor of Pashto, University Of Malakand, **Corresponding Author's Email:** dr.mazharahmad@uom.edu.pk.
2. Assistant Professor, GGDC Shabqadar, Charsadda.
3. Ph.D. Scholar at Department of Pashto, University of Malakand, Swat

Manuscript Received: May 20, 2023
Manuscript Accepted: 14 Dec, 2023

زړۀ راښکونکي انداز کښې کړے دے- هغه دا تپوس کوي چې د هغۀ د قلم ملګري په هغو حالاتو واقعاتو او حادثاتو ولې څۀ نۀ وائي چې د ارماني د مينې ډک زړۀ ئې په اور نيولے دے- او هم دغه غرېو نيولي زړۀ نه چې کله د سرو وينو قطرې وڅاڅي نو د شعر په جامه کښې لکه د سپرلي د ګلونو د شعر ښائسته او ښکلي ګلونه راټوکوي او په هر لو خپلې وږمې خورې کړي- خو ياران څۀ وکړي د هغوي ډېرې مجبورۍ دي-(۱)

ښاغلے خټک هم دې مضمون کښې وړاندې داسې ليکي:

"بحرحال ارماني صاحب يو باشعوره شاعر دے او د خپل ځانه ګېر چاپېره حالاتو باندې ښۀ ژور نظر لري- او مونږ ترې نور هم د ښۀ ليک طمع لرو- خدائے دې وکړي د نه ارماني صاحب د ليک دا سفر هم دغسې جاري وي"-(۲)

ښاغلے ارماني د خپل يو دوست فضل غني غني په وفات ډېر د درد نه ډک نظم ليکلے دے، چې د پښتونخوا په خاوره د پردي جنګ د لمبو ذکر کوي نو ښۀ سپينې سپينې وائي:

جنګ د کابل نه پښتونخوا ته راغلو

د امريکې په لمسون

هر ګاونډي خفه دے

يوه دشمني جوړه ده

د ناخوالی خندا ده

اخلاص او مينه نشته

قيامت راغلے

د پښتون په کالۀ"- (۳)

"اې زما

خوږه دوسته

زما

ساده جانانه

زمونږ نه هېر نۀ يې

راته يادېږې هر وخت

تاسره لوظ کوو

چې تا به ياد ساتو

ترڅو چې مونږ ژوندي يو

زمونږ نه هېر به نۀ شې

زما ساده جانانه

الا بولا جانانه

درته دعا کوو دا

الله دې وبخښه د خاورو سره"-(۴)

شاغلے ارماني صېب د پوخ سماجي شعور خاوند ؤ ــ دوي د خپل خواوشا د ټولو انساني مسئلو او کشالو نه ښۀ خبرداره ؤ- او دغه مسئلې په خپلو شعرونو کښې بيان کړي هم دي- او دا ئې خپله سماجي ذمه واري ګڼله- د دې په حقله دوي د خپلو احساساتو، جذباتو او نظرياتو په زړۀ پورې اظهار هم کړے دے- او د تجربه کار شاعر په حېث د دوي په اظهار او فن دواړو کښې ډېره پختګي شته ځکه خو خلق د دوي شاعري خوښوي-

د پروفېسر محمد اسلام ارماني د فن او اظهار د پختګی په حقله ډاکټر صاحب شاه صابر خپله يوه مقاله "محمد اسلام ارماني د خپل نظم په ائينه کښې" ځۀ په دا ډول ليکي:

> "ارماني صېب په خپله شعري اثاثه کښې ځينې مشهور غزليه شعرونه لري- او څو پابند نظمونه ئې هم د پښتو د نوي نظم د معيار سره سم دي- خو ازاد نظمونه ئې ډېر ښۀ ليکلي دي- ګو چې هغه طبعاً باغي او سرکش سړے نۀ دے خو د غښتلي سماجي شعور څښتن فنکار دے- د خپل دور په شخصي او انساني مسئلو څۀ نه څۀ اظهار خپله ذمه واري ګڼي د ذمه وارئ دغه احساس د ازاد نظم په لور سم کړے دے- او خبرې سمون خوړلے دے- ځکه چې زړۀ ئې د انسان دے او تخيل ئې د شاعر دے- د تخيل تازګي هم لري- او د غښتلي سماجي شعور رڼا هم لري- او د ارماني په نظمونو کښې د دغه شعري او شعوري کېفياتو له کبله هغه په پښتو کښې د ازاد نظم د ليکونکو په وړومبي صف کښې ولاړ دے"-(۵)

لکه څنګه چې ډاکټر صاحب شاه صابر پروفېسر ارماني پښتو کښې د ازاد نظم د ليکونکو د وړومبي صف شاعر حسابوي- د دوي ازاد نظمونه ډېر ښۀ ګڼي او وائي چې ارماني د دې دور د عصري کشالو

په حقله د خپل خیالات ډېر پۀ زړۀ پورې انداز بیان کړي دي چې د دوي د فني پختګی اندازه ترې ډېره په اسانه لګي- د تخیل تازګي ئې هم د ستائیلو وړ ده-

هم دغه رنګ د دغه دور یو بل تجربه کار شاعر ډاکټر فضل دین خټک د شاغلي ارماني د نظمونو تجزیه په دا ډول کوي:

"ارماني صاحب هم ازاد نظمونه لیکي د هغۀ اکثر نظمونه د کلي وال ژوند شکلي عکاسي پېش کوي- په دې مجموعه کښې د ارماني اولنے نظم ”د مرګ سوداګر“ په ښکاره ډول عقلي او منطقي معنې لري- د نظم په لوستو د قاري خیال سمدستي د خپل وطن حالاتو ته ور وګرځي- او د ارماني صاحب د دې خیال سره متفق شي چې د ملک هر وګړے د دې حالاتو جائزه واخلي چې د انساني وینې دا ارزاني به دا وطن اخر تباهی ته ور مخامخ کړي"-(۶)

ښاغلے تجزیه نګار وړاندې لیکي :

"اختر" یو ښکلے نظم دے- د نظم مرکزي خیال کښې د طبقاتي نظام غندنه شوې ده- ښه رواني لري، د بندونو تړون ئې ډېر ښکلے دے- ساده او روانه ژبه لري- دا نظم ئې هم په قند کښې چاپ شوے دے-

"مزدور او زۀ، اوازونه او مرام" د ارماني د انقلابي ذهن ښائسته فن پارې دي چې د اسلوب د ښائست سره سره د مقصد رښاګانې هم لري- ارماني د استعماري طاقتونو د لاسه ”د کابل ښار“ په تباهی باندې د خپل ژوبل احساس ترجماني په ښائسته الفاظو کښې کړې ده" (۷)

راځئ چې وګورو چې ښاغلے پروفېسر ارماني په خپل یو نظم ”اختر“ کښې د اوږې تږې ماشومانو په حقله څۀ وائي:

”سبا اختر دے خوشحالی به کېږي

ډېرې سیالی به کېږي

خو زما څنګ کښې ولاړ

څو اوږې تږې کسان

یو څو لغړ سوغړ

واړۀ ښائسته ماشومان

د پروفیسر محمد اسلام ارماني په ازاد نظم کښې عصري شعور

خزان زپلي ګلان

چې په مخونو کښې ئې

یو څاڅکے وینه نۀ وه

په سر سرتور

په پښو پښې ابله واړۀ

داسې زیړ پړ ولاړ وو

په خاورو خړ ولاړ وو

حېران دریان ئې کتل

لکه چې ټول ګونګیان وو

لکه چې ټول کاڼۀ وو

ما چې د نن او د پرون په حال

ملګرو فکر وکړۀ

نو ماته د خپل کلي د خپل محلت

یتیمانان رایاد شول

د چا پلرونو چې سرونه په وطن ایښي وو

د چا په سرو وینو چې اوس هم دا چمن اباد دے

د چا په سرو وینو چې اوس هم دا وطن اباد دے

ماته د خپل کلي د خپل محلت

هغه یوځو خوېندي رایادي شولې

د چا نران او غېرتي ورونه

چې د وطن په سر

د دې چمن په سر

په خپل سر اړ نۀ وو

ماته د خپل کلي د خپل محلت

د وادهٔ شوو خوېندو
د ځنو سرهٔ ګلونه مخې ته شول
څوک چې د خپلو مېړنو په طمع
د ژوند شپې ورځې شماري
چې دا دے اوس به راشي
چې دا دے اوس به راشي"- (۸)

امن د يوې معاشرې هغه حالت ته وائي په کوم کښې چې ټول معاملات د معمول مطابق بغېر د څهٔ جنګ جګړو او اختلافاتو چلېږي- او د هغه معاشرې ټولو خلقو ته سماجي، معاشي او سياسي حقوق حاصل وي- په نړيواله سطح هم د ټولو قامونو ترمېنځه صحتمند او مثبت تعلقات قائم وي- د جنګ معاشي عدم مساواتو، غېر متوازن سياسي نظام، قام پرستي، نسل پرستي او بنياد پرستي نهٔ وي هر قام ته ټول بنيادي حقونه حاصل وي-

ولې د بده مرغه امن چرته نشته، نهٔ زمونږ په کلي کور او سيمه وطن کښې او نهٔ د نړۍ په غريبو ملکونو او قامونو کښې- هر څوک د خود غرضۍ ښکار دے- هر څوک د ذاتي ګټو د حصول د پاره منډې وهي- د بل څټ ماتوي- د بل حق وهي، جنګونه دي، ويره ده، ترهه ده، او په ټول ملک او وطن د ترهه ګرۍ راج دے او د خود غرضۍ رواج دے- باور نشته، ارام تلے دے، بې ټيکاوي ده، ناقراري ده او امن زمونږ نه خفه چرته ډېر لرې کډه کړې ده-

زمونږ شاعر اسلام ارماني هم امن غواړي- د خپل وطن د پاره او د ټولې دنيا د پاره- ځکه چې هغه د جنګ سرې لمبې مړې کول غواړي، نفرت وژل غواړي، مينه خورول غواړي او امن عام کول غواړي او په دا ډول غواړي-

"د امن سندره"
مونږ د ســـپرلي ګلونه غواړو
هر چمن کښې
په خپل ښکلي ګلشن کښې
دغه پېغام دے زمونږ
دغه پېغام دے زمونږ
دلته خوارهٔ دي د بمونو لوګي
د ميزائلو او توپونو لوګي
خېژي د دنګو نښترونو لوګي

راځئ چې مړې کړو سرې لمبې
په ټول وطن کښې
په خپل ښکلي ګلشن کښې
دغه پېغام دے زمونږ
دغه پېغام دے زمونږ
ارماني دغه مو پېغام دے دا
خورول غواړو
امن زمونږه لوے مرام دے
نفرت وژل غواړو
مينه خلوص غواړو په کوه او
په دمن کښې
په خپل ښکلي ګلشن کښې
دغه پېغام دے زمونږ
دغه پېغام دے زمونږ (۹)

د خپل خوږ وطن د سياسي نظام په حقله ئې هم ليکي دي- الېکشن کېږي، خلق راځي ووټونه غواړي، ممبران کېږي، ليډران کېږي، ملک لوټل ئې کار دے، اولس دهوکه کول ئې روزګار دے-
ښاغلے ارماني زمونږ د ملک د دغه سياسي مداريانو په حقله خپله "فېصله" نومې نظم کښې وائي:

" فېصله "
تېر ځل هم داسې وعدې وشولې او
هېرې شولې
د سيند چپې وې بس په مخه باندې
تېرې شولې
هېچا د يو غريب په حال باندې
ژړا ونۀ کړه
هېچا د يو مظلوم په نره
ملګرتيا ونۀ کړه

تش په ځُلۀ خبرې وشوې مدعا
پوره شوه
د ووټرانو د سرونو ښه سودا
پوره شوه
مونږه ووټ ورکړۀ ممبران او
وزيران جوړ شول
د معمولي خلقو نه لوے لوے
ليډران جوړ شول

خو زمونږ حال بس هغه زوړ دے
بدل شوے نۀ دے

انغرے هغه شان لا سوړ دے بدل
شوے نۀ دے
هغه زمونږ په غم غمژن په خوارۀ
خوب پراتۀ دي
زمونږ د پاره هغه پوړ دے بدل
شوے نۀ دے

مونږ د سحر نه تر ماښامه
مزدورۍ لټوو
مونږ په منت ځارۍ خپل ځان لره
خوارۍ لټوو
شپه مو لا سخته وي د ورځې هم
ارام نۀ مومو
پښه کۀ په پښه باندې راواچوو
طعام نۀ مومو

د ګوړې نوم خو په قسم کور
اخستلے نۀ شو
د ماشومانو بچو کریکې نور
زغملې نۀ شو
چایې دې سر وخوري خو ګېډې تنور
نۀ ډکېږي
د دوو روپو په مزدورۍ دا ډکولې
نۀ شو

اوس دا رپورټ ربه د چا په
عدالت کښې وکړو
په هائي کورټ کۀ ئې ستا په
عدالت کښې وکړو
مونږه نهر به یو تر کومې ستا
فراخ رزق کښې
ژړا فریاد د کوم اقا په عدالت
کښې وکړو

مونږه خو ستا د فېصلې په
انتظار یو ربه
ګني قسم دے چې د دې ژوند نه
وېزار یو ربه
ولې په تا باندې مونږ حق د
بندګۍ نۀ لرو؟

مونږ دي سماج کښې خپل مقام د
زندګی نۀ لرو؟

دوي هم زمونږ په شان بنديان دي
انسانان دي ربه
خو څوک سرۀ سپين دي څوک غټ خېټې
نوابان دي ربه
مونږ په جونګړو کښې وسېږو بيا
هم تا يادوو
دوي په بنګلو کښې هم له تا نه
غافلان دي ربه

اوس حق په تا دے حقه ربه حق له
چا وغواړو
ستا له بنديانو کۀ نه لويه ربه ستا
وغواړو (۱۰)

ډاکټر فضل دين خټک د شاغلي ارماني په دې نظم "فېصله" خپله تبصره داسې کوي:

> "ارماني صاحب فېصله نومې نظم په کال ۱۹۷۱ء کښې د خپلې حلقې د قومي اسمبلۍ د ضمني الېکشن په حقله ليکلے دے، چې د خپل عدم اطمينان اظهار ئې وربانديې کړے دے- او د طبقاتي نظام غندنه ئې په کښې ښه په ډاګه کړې ده- خو افسوس چې په ارماني صاحب د دې نظم ليکلو په وخت مايوسي غالبه شوې ده- او د انقلاب هسکه جنډه ئې د لاس نه خوئېدلې ده-
> بهرحال ارماني صاحب يو باشعوره شاعر دے- او د خپل ځانه ګېر چاپېره حالاتو باندې ښۀ ژور نظر لري او مونږ ترې نور هم د ښۀ ليک طمع لرو- خداے دې وکړي چې د ارماني صاحب د ليک دا سفر هم دغسې جاري وي- امين"- (۱۱)

## حوالې او حاشيې


1. خټک، فضل دين، ډاکټر، د محمد اسلام ارماني شاعري دوېم دور، مشموله، ياران هېڅ نۀ وائي، ۲۰۱۵ء، مخ:۸، ۹
2. خټک، فضل دين، ډاکټر، د محمد اسلام ارماني شاعري دوېم دور، مشموله، ياران هېڅ نۀ وائي، ۲۰۱۵ء، مخ:۸، ۹

3. ارماني، محمد اسلام، پروفېسر، داتهٔ په څهٔ خفه يې، يونيورسټي پبلشرز قصه خواني بازار پېښور، ۲۰۱۳ء، مخ۱۶۸
4. هم دغه اثر، مخ:۱۷۰
5. صابر، صاحب شاه، ډاکټر، محمداسلام ارماني د خپل نظم په ائينه کښې، مشموله، محمد اسلام ارماني د معاصرينو په نظر کښې، مؤلف، علي خېل درياب، ناچاپ، مخ:۴۹، ۵۰
6. خټک، فضل دين، ډاکټر، د محمد اسلام ارماني شاعري دوېم دور، مشموله، ياران هېڅ نهٔ وائي، ۲۰۱۵ء، مخ:۱۴، ۱۵
7. خټک، فضل دين، ډاکټر، د محمد اسلام ارماني شاعري دوېم دور، مشموله، ياران هېڅ نهٔ وائي، ۲۰۱۵ء، مخ:،۱۵، ۱۶
8. ارماني، محمد اسلام، پروفېسر، ياران هېڅ نهٔ وائي، مخ:۷۵، ۷۶
9. ارماني، محمد اسلام، پروفېسر، داتهٔ په څهٔ خفه يې، يونيورسټي پبلشرز قصه خواني بازار پېښور، ۲۰۱۳ء، مخ۱۷۱، ۱۷۲
10. ارماني، محمد اسلام، پروفېسر، ياران هېڅ نهٔ وائي، مخ:۱۱۵___۱۱۷
11. خټک، فضل دين، ډاکټر، د محمد اسلام ارماني شاعري دوېم دور، مشموله، ياران هېڅ نهٔ وائي، ۲۰۱۵ء، مخ:۱۸